# زما پیغام

جمشید ندیم نیازی

جرمني 26/4/2000

غزتمند ورو جمشيد نديم نيازی صيب ته
گيډی گيډی سلامونه

ستاسي په زړه پوري او د ميني ډک ليک راورسيده، ډيره ډيره مننه.

د قام پالونکو ملگرو ترمينځ اړيکي او ملاتړ د بي وسی کډي باروي چي نه يواځي زما او ستا بي وسي ده بلکي د ټول پښتون قام په پښتنو کي د قامولی احساس را ژوندی شوی دی چي ستاسي ليک يي بيلگه او تائيد دی. زه يي لاپسي زيات ډاډه کړم چي د پښتونوالی پسرلی را روان دی او د پښتون د بې وسی جرړي باسي.

ستاسي وړانديز ډير غوره او گټور دی زه به يي نورو ملگرو ته ورسوم ما خپله پدي وخت کي پام پوهني ته را اړولی دی. يو کتاب به چي د (هوښيارتيا تله) نوميږي پدي نژدي وخت کي چاپ شي او دوه نور پوهنيز کتابونه به په همدي راروان عسوي کال کي د ملگرو په خدمت کي وړاندي کړم.

په درناوي کبير ستوری ستاسي ملگری

ډير گران اروښاد ډاکتر کبير ستوری چي په جرمني کي و نو ماورته د ليک ځواب يو خط وليکلو او په خط کي مي ورته وړانديز اوکړو چي ستاسو بايد د پښتو افساني په انگريزی ژبه ترجمه کړئ او د انگريزي ژبي افسانو ژباړه په پښتو کي اوکړئ نو گران مشر د هغه خط جواب راکړو زه د دي خبري يادگيرنه بيا بيا کله کوم چي اکثر ياران ما د ژوند په دي لارو کي اوليدل چي بدل شو خو زما په دغه مشرانو دوستانو کي خدای بخښلي ډاکتر کبير ستوری يو ستر مشر ؤ چي د مغرب خاوري بدل نه کړی شو په حقيقي معنو کي پښتون ؤ او پښتون پال ؤ او اصلي پښتو يي د ژوند تر اخيري ساعتونو اوپالله او بل مشر لايق زاده لايق چي دريډيو پاکستان غټو، غټو عهدو بدل نه کړي شو بلکي د ماضي په شان همغه لايق دی په ډيري بخښني چي زمونږ بعضي ملگري د ورځپاڼو يا د ميډيا د نورو عهدو سره وتړل شي نو ډير زيات بدل شي او خپل زاړه ياران دوستان هير کړي داسي کول يقيناً پکار نه دي ستر خوشحال خان خټک په ښه نوم پای ښاغلي تل ترتله.

په ډيره مينه د خپلو خوږو ليکوالانو په نوم دغه پيغام

جمشيد نديم نيازی